SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
شپږم کال ۱۸ مه گڼه پرله پسې (۳۹۸) یکشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ذوالحجة الحرام (۱٦)
د۱۳۷۹هـ ش کال د کب دمیاشتې (۲۱) د ۲۰۰۱ میلادي کال د مارچ (۱۱)

سیاف
در اخرین لحظات تصمیم گیري سرنوشت خویش به سر میبرد

کابل - شریعت :
به استناد یك منبع موثق خبري گفته میشود که اخیراً اختلافات سیاسي نظامي در صفوف جبهه مخالفین ا.ا.ا حتي سران تنظیمي منجمله سیاف و حکمتیار را واداشته است تا از آخرین شانس حیات خویش که عبارت از مراجعه به حقانیت امارت اسلامي افغانستان مي باشد دریغ نورزند.
این در حالیست که مسعود از طي دو ماه بدینسو به اشاره مستقیم هند، روسیه و ایران سرگرم اضمحلال به اصطلاح قطعات جهادي و جور سازي ۲ فرقه منظم نظامي تحت سرپرستي جنرالان و افسران ارشد کمونست چون بابه جان، نبي عظیمي، آصف دلاور و ... در دره، پنجشیر مي باشد.
منبع مي افزاید : با ایجاد چنین فرقه ها علاوه از اینکه روز تا
ص ٤

الهی فرمان
عدل (انصاف) وکړئ تاسې ! همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

عالیقدر امیر المومنین :
د ښځو ماتولو پرېکړه
د الهی ارشاداتو له مخې شویده
دا کار په کوم سیاسي هدف پورې تړاو نلري بلکي د شرعي امر تعمیل ته غرض دی
په هېواد کې د ټولو شرعي مقرراتو پلي کول زموږ کورني موضوع ده
نړیوال زموږ په کورنیو چارو کې د مداخلې حق نلري

کندهار - باختر
. عالیقدر امیر المومنین پرون له غرمې مخکې د پاکستان د اسلامي جمهوریت د کورنیو چارو وزیر محترم معین الدین حیدر د کتنې لپاره خپل حضور ته ومانه .
په دې کتنه کې محترم معین الدین حیدر خپله هغه اندېښنه چې د ښځو د ماتولو په اړوند یې لرله د هغه په ځواب کې وویل: د عالیقدر امیر المومنین ته څرگنده کړه .
عالیقدر امیر المومنین د ښځو د ماتولو پرېکړه د الهي لارښوونو یعنی د قرآن عظیم الشان او د نبوی احادیثو له حکمونو
٤مخ

د ملگرو ملتو عمومی منشی به نن د اسلامی امارت د بهرنیو چارو له وزیر سره وگوري

د بي بي سي راډیو - شریعت :
د ملگرو ملتو عمومي منشي کوفي عنان به نن په اسلام آباد کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر سره وگوري
ټاکل شویده چې محترم مولوی وکیل احمد متوکل به د بودا د مجسمو د ویجاړولو، په
٤مخ

چمن حضوري کابل به میدان دریوري مبدل گردیده است

شریعت :
از طي ١٤ سال بدینسو چمن حضوري کابل سیراب نگردیده و تقریباً ۲۰ فیصد ساحه، آنرا موش هاي زیر زمیني تخریب نموده است .
اگر در قسمت سیرآبي و احیاي مجدد این چمن از جانب شاروالي کابل و سایر موسسات بازسازي توجه و اهتمام جدي صورت نگیرد این چمن بزودي سرسبزي خود را
ص ٤

محترم مولوی عبدالهادی آخندزاده کفیل وزارت مالیه درمصاحبه با «شریعت»
عواید امارتی شامل مالیات مستقیم وغیر مستقیم میباشد

شریعت : خوانندگان عزیز! خبرنگارما در مورد وضع مالي کشور با محترم مولوی عبدالهادی آخندزاده، کفیل وزارت مالیه ا.ا.ا مصاحبه را انجام داده است که اینك به توجه شما رسانیده می شود .
در آغاز محترم کفیل وزارت مالیه گفتند : وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان اصولاً مسئولیت تطبیق پالیسی های مالی کشور رابدوش دارد . این پالیسی شامل دوقسمت میگردد که عبارت اند از عواید ومصارف عادی وانکشافی .
موصوف افزودند : منبع اصلی ص ٤

در ایام عید قربان :
بیشتر از ۷۰۰۰رأس مواشي در شهر کابل ذبح گردید

کابل - شریعت :
سنت ابراهیمي (قرباني) در ایام عید سعید اضحي از جانب برخي موسسات خیریه اسلامي و هموطنان متدین ما در شهر کابل با گرمي بیسابقه، استقبال
ص ٤

در ولایت هرات :
توزیع کمک به مهاجرین ادامه دارد

کمك هاي بشر دوستانه افغان هاي مهاجر مقیم کشور هاي امریکا کانادا ، سویس و جرمني اخیراً به بیجا شده گان کمپ هاي مهاجرین ولایت هرات
ص ٤

د نړۍ مشران د فلسطینیانو د بدې ورځې په اړه ولې پټه خوله پاتې دي
یاسر عرفات

د فلسطین مشر یاسر عرفات ویلې دي چې د صهیونیست رژیم د برغلگرو لخوا په فلسطیني سیمو د اقتصادي کلابندۍ لگولو له
٤مخ

در ولایت کندز مسابقات جالب بزکشي صورت گرفت

کندز - باختر :
مسابقات جالب بزکشي و پهلواني اخیراً در شهر کندز راه اندازي گردیده بود.
از جریان مسابقات بزکشي و پهلواني محترم ملا فاضل اخند لوي درستیز وزارت دفاع ملي ، محترم محمد عمر خان والي کندز ، محترم ملا عبدالرزاق نافذ قوماندان قول اردوي بلخ و محترم ملا عبدالروف اخند
ص٤

نمایي از مواشي ذبح شده یوم اول عید قربان در شهر کابل
عکاس :یوسف

د ښځو ماتول یو نبوي سنت دي
۲ مخ

سپینه کیسه
۲ مخ

د جاپان لومړی وزیر استعفی ته مجبور شو

د بي بي سي راډیو - شریعت :
د جاپان لومړی وزیر یو شیرو موری د استعفی لپاره خپل نیت اعلان کړیدی هغه د واکمن لبرال دموکرات گوند جگ پوړو غړو ته ویلی چې هغه به د نوی مشر د ټاکلو لپاره انتخابات چې ددې کال د پای لپاره ټاکل شوی و مخ ته راولي.
خبریالان وایی وروسته له دې چې د امریکې او روسیې له ولس مشرانو سره ولیدل د
٤ مخ

شوراي قانون گذاري فلسطین تشکیل جلسه داد

منابع خبري جهان- باختر :
شوراي قانونگذاري فلسطین دیروز تشکیل جلسه داد در این جلسه یاسر عرفات رهبر
ص ٤

محترمه طبیبه لاله «سعادت» موظف در شفاخانه چهارصد بستر خواجه عبدالله انصاري ولایت هرات :
تجلي عواطف معالج، سر منشأ التیام هر مرض است

شریعت : راستي رمز موفقیت و محبوبیت وي در چه چیز هاي نهفته بود؟ بار ها از او بعنوان مظهر عطوفت وجلوه روشن نجابت و تقوا شنیده بودم. میگفت : او با خستگي درماندگي و از قید زمان و رسمیات بیگانه است. یکي مراقبت وي از مریضش ، ص ۲

قوماندان پولیس مخفي یوگوسلاویا به احتکار مواد مخدر متهم گردید

وزیر داخله یوگوسلاویا قوماندانان ارشد پولیس مخفي سلوبودان میلو سوویچ رئیس جمهور سابق آنکشور را به ص ٤

د اسلامي هیوادونو لخوا : بیت المقدس ته د امریکایي سفارت په لیږدونه نیوکې شویدي

نړیواله خبري سرچینې : له تل ابیب څخه بیت المقدس ته د خپل سفارت د لیږدونې په باب د امریکا د متحده ایالاتو تصمیم د اسلامي هیوادونو د
٤ مخ

سرمقاله
دلوی خدای (ج) په نامه

اقتصادي بندیزونه او د ښځو د حقوقو ناري سوري !

سږکال یو ځل بیا د مارچ اتمه نېټه د ښځو د نړیوالې ورځې په توگه د ځانگړو جلسو او کنفرانسونو په ترڅ کې ونمانځل شوه چې زیاترو گډون کوونکو او ویناوالو یې ښځو ته د لازیاتې پاملرنې او امتیازاتو ورکولو غوښتنې، او ناري وهلې. که څه هم لویدیځ د خپل ظاهراً
۲ مخ

که له بندیزونو سره مقابله کوئ نو د نیالگیو په ایښودلو سره مو هیواد ودان او سمسور کړئ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
د یوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پته : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

غولوونکې او ځلیدونکې تمدن سختې لاپې وهي چې ګنې هر ډول ښېګړه، انصاف او سوکالي یې په برخه او کومه خاصه ټولنیزه ستونزه نه لري خو د پېښو زیاتره څارونکي او ټولنپوهان هلته د یوه نوي جهالت، وحشت او ډېر بدرنګه انحراف، نښې وېنې چې لویدیځه ټولنه د بشپړې تباهي په لوري راکاږي، په دې لړ کې د ښځو پر خلاف زیاتیدونکي جرائم، د فحشاء په مرکزونو کې ترې کار اخیستل، په کارځایونو کې یې په سختو او شاقه کارونو ګمارل او د طلاق او بې سرپرستۍ په شان نورې بې شمیره کشالې ددې خبرې یو مهم شاهد او ثبوت دی خو په هر صورت له دې ټول اجتماعي بحران سره سره بیا هم له یوې خوا د ښځو د حقوقو ناري سورې او له بلې خوا د درېمې نړۍ او خصوصاً افغانستان په شان غریبو هیوادو پر خلاف اقتصادي بندیزونه او د ډول ډول دسیسو په کارولو سره په هغوی باندې جنګ جګړې ورتپل، چې زیاتره قربانیان یې همدا بې وسه ښځې او ماشومان دي، لا یو بل ډول جنایت او منافقانه چلند دی چې د لویدیځ مکار او درواغجن زړه سوانده رژیمونه یې مرتکب شوي دي د نوموړې ورځې د غونډو په لړ کې یوه هم په لندن کې د افغاني ښځو مظاهره وه چې برخه والو یې پر افغانستان لګیدلي بندیزونه وغندل او هغه یې د بې ګناه ښځو او ماشومانو د کړیدلو ځوریدلو او لوږې تندې له لاسه مړه کیدلو ستر اسباب وبلل. خو د لویدیځ واکمن هیڅکله هم په دغسې خبرو غوږ نه ګروي او نه د مظلومو ښځو او ماشومانو د لوږې څه پروا لري، د هغوي په وړاندې خو یوازې او یوازې د فحشا په لور تشویقول د ښځو اساسي حقوق دي او بس. او دا ځکه چې که داسې نه وي او ربښتیا هم واقعیتونه په نظر کې نیول کیدی نو ولې په افغانستان کې د ښځو د میراث، دکونډې د اختیار او ځینې نورو ځورووونکو رواجونو په خلاف د امارت د فرمانونو هر کلی ونه شو. کوم چې په ټول هیواد کې د ښځو د ژوند تر هر څه زیاتې ستونزې ورپورې تړلې دي پاتې شوه د تعلیم خبره چې هغه هم د نړۍ مغرضو هیوادو ته همدومره بې ارزښته ده لکه د ښځو د ژوند دا نورې اساسي اړتیاوې سره له دې چې د اسلامي امارت د وروستي فرمان له مخې په ټول هیواد کې د ورو جینکیو تعلیم جبري ګرځول شوی او د اقتصادي ستونزو په کمیدو سره به د غټو جینکیو د تعلیم لپاره هم د ځانګړو شرایطو په برابرولو لاس پورې شي خو بیا هم د لویدیځ واکمن خپلې سیاسي سرتمبه ګۍ ته هماغسې اړم او له پر مختللو تبلیغاتي وسایلو نه په استفادې خپلواکې غوښتونکې ولسونه تر فشار لاندې نیسي او خپل شرایط او ناولې کلتور ورباندې تپي.

نو په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامي امارت د اسلام د سپېڅلې دین له اصولو او مجتهدو امامانو له استنباط او استدلال او د خپل مسلمان ولس له کلتور سره سم د ښځو د حقوقو او د هغوی د ژوندانه د شرایطو په سمون او پرمختیا کې هلې ځلې کوي هیڅکله به هم پر خپلو دغو اصولو سودا او پردیو ته په خپلو کورنیو چارو کې د لاس وهنې اجازه ورنکړي.

د ربښتیا لټون

د جوزفین آنیوې د مسلمانیدو خبرونه مې په بېلا بېلو خپرونو کې لوستي او ځینو خپرونو په زړه پورې رپوټونه خپاره کړي و چې زما تلوسه او تنده یې نوره هم زیاته کړې وه.

لومړی پلامې هغه په پوهنتون کې ولیده، کله چې د پوهنتون په یوه کوټه کې په لمانځه ولاړه وه.

په لمانځه کې مې چې ددې خشوع او خضوع ته کتل ډېر اغیزې را باندې وکړ او ځان ته مې په کرکه وکتل.

له لمانځه وروسته د ډوډۍ لپاره کفتریا ته ولاړو، هلته مو مرکه او د زړه خواله وکړه جوزفین راته خپله کیسه په دې ټکو پیل کړه: د قرآنکریم او نبوي احادیثو مطالعې پر ما داسې اغیز وکړ چې د خپل ناکراره روح د داډ او سکون لپاره مې پر دغو لارښوونو له عمل کولو پرته بله لار نه لیدله.

دي د اسلام داسې ژوره مطالعه لرله چې ما یې پر وړاندې ځان ډېر وړوکی وګاڼه.

جوزوایې دا چې څرنګه مسلمانه شوه خپله هم حیرانه ده، څو کاله د مخه یې د خپلو هیلو او غوښتنو پوره کول خپله نیکمرغي ګڼله، له دې پرته یې د بل څه اړتیا نه لیدله، له دین او مذهب سره یې هیڅ اړیکې نلرلې، د خپلې خولې خبره یې ده: یوه ورځ مې د یوې سهیلي چې پر کمپیوټر یې کار کاوه په دفتر کې د کتابونو الماری لټوله یو کتاب مې راواخیست دا د قرآنکریم انګریزي ژباړه او تفسیر و، یو دوې پاڼې مې په نه زړه ولوستې، خو همدغو دووپاڼو دومره را کاږلم لکه چې زړه رانه په همدغو پاڼو کې پاتې وي.

ما دا پوره درک کړه چې قرآن کریم له لوستونکي سره په ذاتي کچه هم مخاطب دی.

په همدې مهال مې دا پریکړه وکړه چې د قرآنکریم یوه ځانګړې نسخه رانیسم، له دې سره مې د پیغمبر «ص» د احادیثو مطالعه هم پیل کړه چې ورو ورو یې پخپلو څپو کې رانغښتم. خو لا دا پریکړه مې نه وه کړې چې مسلمانه شم. ما غوښتل دا وپیژنم چې اسلام څه لري او خلکو او ټولنې ته څه ورکولی شي له همدغي لومړنۍ مطالعې سره مې د هغه صداقت او ربښتینولي څرک ولګاوه چې زه یې په لټون پسې سرګردانه وم. ما خپله ورکه همدلته ومونده هغه داډ او سکون چې زما روح او روان په هغه پسې ناکراره و همدلته زما په زړه وغوړید، له همدې ځایه مې پریکړه وکړه چې ددغه دین احکام په خپل ژوند کې عملي کړم.

د قرآنکریم مطالعه مې بشپړه کړه پنځه وخته لمونځ مې بشپړ کړ د رمضان څو ورځې روژه مې هم ونیوله، دا هغه مهال و چې لا ایمان مې نه و راوړی، ما دا پریکړه کړې وه چې له اسلام راوړو دمخه د دیني احکامو د عملي کولو مشق او تمرین بشپړ کړم له دې سره ددغو عباداتو هغه پټ برکتونه او رحمتونه را څرګند شول، دلته مې دا زړه ومنله چې دغه عبادات د انساني شخصیت په جوړولو او عظمت کې کار نده رول لري.

ما له خپلې پریکړې تر ټولو دمخه خپله مور پلار او کورنۍ خبره کړه، هغوی زما له فیصلې ډېر اندیښمن شول، دوی داسې ګڼلې وه چې زه ګنې له کوم مسلمان سره واده کوم، هغه زه دوکه کړې یم او بیا به را باندې ظلمونه او سختي کوي. په دې توګه یې د کوم مسلمان له خوا برغمل ګڼلم.

ما ونشوای کولای له خپلې کورنۍ سره د کرسمس په خوښیو کې برخه واخلم، هغه ترخه یادونه زما په حافظه کې اوس هم پاتې دي. کله چې د میز شاوخوا راټول شوو، ټولو ماته په ماناوال او کرکجن نظر کتل، پلار مې راسره یوه خبره هم ونکړه، په دې توګه دوی پخپل خیال ماته د خپلې غلطۍ د احساس راکولو هڅه کوله.

ما له هماغه پیله د پردې او حجاب مراعات کاوه، د ۱۹۷۹ کال په کرسمس کې راته پلارو ویل: ته زما لور نه یې، وروړ ما تیکرې ته ګوته ونیوه ویې ویل: د میز دا پوښ څه کوې چې ځان دې پکې نغښتی دی...

خو ما په ډېر صبر او زړورتیا د دوی کنترې، طنز او کنایي وزغملې، ما حجاب او پرده د الله تعالی د رضا لپاره ساتله د بل هیچا پروا را سره نه وه، خو کله چې مې کورنۍ په دې وپوهیده چې له خپلې لارې اوښتونکې نه یم نو را سره یې روغه وکړه اوس یو له بله خبرې کوو خو زما د ګروهې او عبادتو په اړه کومه مداخله نه کوي.

سږکال مې نیت دی چې حج ته ولاړه شم، الله تعالی زما ډېرې ستونزې اوارې او نیغه لاریې را رخې ته کړ، چې زه ددغو نعمتونو شکر نه شم په ځای کولای.

اسلام ماته د ژوند هغه ستر هدف راوښود، ذهني سکون او داد یې راوباښه، هغه پوښتنې یې را ځواب کړې چې زما روح او ضمیر یې ناکراره کړی و.

د اسلام په اړه د نا مسلمانه ټولنو او واکمنو دریځ دا دی چې هغوی دا ګنې یا هڅه کوي چې اسلام پښتې پاله دین او مسلمانان سخت دریځه معرفي کړي، چې مسلمانان ګنې ترهګر او په تورسرو د بندیزونو لګولو له امله پر هغوی ظلم او سختي کوي.

په دې اړه نړیواله میډیا لګیا ده تبلیغات کوي چې مسلمانان ترهګري خپروي له همدې لارې نړیوال له اسلام څخه ویروي خو حقیقت دا دی چې اسلام د خپلو لارښوونو له لارې په نړۍ کې په امن او سوله کې د ژوند تیرولو درس ورکوي، خپله اسلام د عربي ژبې له سلام څخه چې د سلامتۍ معنا لري اخیستل شوی.

نړیوال استکبار هڅه کوي، د اسلام په اړه غلط فهمي را منځته کړي. ددغو غلط فهمیو له منځه وړل جهاد غواړي او زما دا نیت دی چې دغه جهاد ته اوږه ورکړم.

اسلام چې تورسرو ته کوم حقوق ورکړي هغه هیڅ مذهب او سیاسي نظریې نه دي ورکړي، له بده مرغه تبلیغات داسې روان دي چې اسلام د تورسرو حقوق محدود کړي په داسې حال کې چې اسلام د تورسرو بنیادي حقوق بشپړ خوندي کړي په اسلام کې د تورسرو حقوق په ډېره څرګنده توګه ساتلي او درانه ګڼل شوي دي.

د بتانو ماتول یو نبوي سنت دی

مولانا راحت ګل د مرکز علوم اسلامیه مهتمم

په افغانستان کې د اسلامي امارت د فرمان سره سم د ټولو مجسمو او بتانو د ورانولو په سر یوه نړیواله غوغا جوړه شوې ده او ټولې خبرې وسیلې په همدې موضوع لګیا دي خو که له دې ټولو تبصرو او تأویلونو تیر شو او وګورو چې زموږ ستر لارښود حضرت رسول اکرم «ص» په خپل ژوند کې د بتانو په هکله څه ډول اقدامات کړي، نبایې د یو مسلمان لپاره بېخي کافي وي نو دا دي په لنډه توګه څو واقعي بیانوو:

د مکې مکرمې او مدینې منورې ترمنځ د (شلل) د قریې په طرف د بحر په ساحل کې د منات په نوم یو بت ایښودل شوی و چې ټولو عربو به د عزت او احترام په سترګه ورته کتل، او هلته به یې د برکت لپاره خپل څاروي او حیوانات ذبح کول او په قرآنکریم کې یې هم ذکر راغلی دغه بت د هذیل او خزاعه د قبیلې معبود و چې د مکې د فتحې په ورځ د حضرت علي کرم الله وجهه په لاس د حضرت رسول اکرم «ص» په حکم له منځه ولاړ. د فلس په نوم یو بل بت چې د بنی طی د قبیلې معبود و، هغه هم د رسول اکرم «ص» په قومانده د حضرت علي «رض» په واسطه مات شو په همدې ترتیب د لات په نوم یو بل بت چې د منات نه وروسته یې زیات شهرت درلوده او په قرآنکریم کې هم ورته اشاره شوې ده خو کله چې د ثقیف قبیله په اسلام مشرفه شوه نو رسول الله «ص» حضرت مغیره بن شعبة ته حکم وکړ او هغه بیا (لات) مات او په اور کې یې ستی کړ، عزی د یوې ونې نوم دی چې ورسره جوخت یو بت ایښودل شوی و او د غطفان قبیلې یې عبادت کاوه د عزی قصه هم په قرآنکریم کې راغلې کله چې رسول الله «ص» مکه فتح کړه نو خالد بن ولید یې د عزی په بت مامور کړ، حضرت خالد د عزی بت ته په خطاب کې وویل (یا عزی کفرانک لا سبحانک إني رأیت الله قد أهانک) أی عزی! ستا څخه منکر یم، ستا ستاینه نه کیږي ځکه چې زه ګورم چې الله «ج» ستا د ذلت فیصله کړې ده نو بیا حضرت خالد د توري په ذریعه سر ور څخه قلم کړ.

په همدې ترتیب کله چې رسول الله «ص» د مکې د فتحې په ورځ کعبې ته ننوت، نو د توري په ذریعه یې ټول بتان زیرو زبر کړل او ورسره یې دا آیت شریف زمزمه کاوه: ترجمه: حق راغی او باطل له منځه ولاړ بې شکه باطل له منځه تلونکی دی.

بیایې ټولو بتانو ته د ماتولو نه وروسته اور ورواچاوه چې تعداد یې ۳٦۰ ته رسیده په دې توګه د رسول الله «ص» د فعل او عمل څخه څرګندیږي چې د بتانو ماتول حتمي او خرید او فروخت یې ناروا دی مګر څرنګه چې د حرامو شیانو اخیستل او خرڅول ناروا دي په همدې ترتیب د بتانو خرید او فروخت هم ناروا او ماتول یې ضروري دي لوی خدای «ج» د ګناه په کارونو کې یو د بل سره له تعاون کولو منع کړې لکه چې فرمایي:

ترجمه: او د نیکۍ او پرهیزګارۍ په کارو کې یو له بل سره مرسته وکړئ او په ګناه او تیرې کولو کې مرسته مه سره کوئ.

په افغانستان کې د بشري مرستو د ښه تنظیم ضرورت (۳)

استاد عبدالاحد

د ځینو بهرنیو غیردولتي ادارو دکار د میکانیزم یوه عمده ځانګړتیا داده چې باید دلګښتونو ارقام په هغه کچه وښیي چې د پروپوزل د محتویاتو مطابق وي کوم چې د هغه په بنافنډ (مالي کومک) د ډونري اداري له خوا ورکړ شوي وي هغه یې داسې خرڅې کړي چې له لسونه زیات انفرادي او **شخصي کاماز** موټران یې دورځې په دولس نیم سوه زره افغانۍ په کرایه ونیول پداسې حال کې چې عندالضرورت به (په یوه یا دوو هفتو کې یووار) کار پیداکیده نو دتیلو او مېلانګو مصارف به هم ددفتر له خوا ورکول کیدل او له یوې میاشتې نه زیاتې مودې لپاره یې قرارداد کړل دا په داسې حال کې چې ددفتر خپل ترانسپورتي وسایل چې عاطل ولاړ او کافي وو د سږکال په اوړدو کې ددفتر ساحوي سوپروایزر ته وظیفه ورکړ شوه چې د سولیدارېټي د محلي دفترونو چې دغوربند دچارده په ولسوالۍ، دو آب، میخزرین کامرد، او د سیغان په ولسوالیو کې ژ، دپنځوسو ورځو دلګیو انتقال چې ده مرکز پنځلس منه سهمیه وه اکمال کړو د همدې شپیتو منو لګیو دانتقال لپاره چې یو بېرل تیل هم پکې شامل ژ نوموړو شخصي قرارداد شویو کامازو ته پوره دوه بېرله تیل واچول شوه محلي سوپروایزر پوره یوه هفته سفر وکړ چې د ډرېور او کلینر سره مجموعاً څلورنته کیدل وروسته بېرته بامیانو ته راواپس شول چې مجموعي مصرف یې د معاش، دوه بېرله تیلو او د کاماز ورځنۍ کرایې له «۲۳» ملیونو نه تجاوز وکړ چې پکې د هوټل مصارف هم ندي شامل ځکه محلي دفترونو کې به یې ملګرو د افغاني دود مطابق مېلمانه کول او په دې ډول یې خپله وظیفه د مالي مسئول د اقتصادي پرنسیب سره سم (شپیته منه لګي په مصرف د دوه سوه ډیرشو لکو افغانیو چې هغه هم د پنځلسو ورځو اکمالات ژ) اجراء کړه. خو که چیرې په افغاني کارکوونکو (په محلي دفترونوکې) اعتماد وای نو د شپیتو منو لګیو دولس سوه زره افغاني په نقدي ورکړل شوې وې چې هغوی له نږدې په مناسبه بیه پیرودلې وای.

داڅ د سولیدارېټي مؤسسې دکار او فعالیت یو دوه مثالونه. نو اوس دې ګران هیوادوال او د بشرپاله ټولنو څارونکي او مسئولین په خپله قضاوت وکړي.

صحت و زندگی

متصدي صفحه : محمد أنور احمدزي

مزایاي شیر مادر

طبیب غازي خیل

شیرمادر که کاملترین وبهترین غذاها برای اطفال محسوب میگردد نه تنهـا اینکه در پرتو ارشـادات قـرآنی واحادیث پیـامبـر بزرگـوار اسـلام هر زن بـه تغذیه طفل خویش باشیر خود هدایت وترغیب گردیده بلکه تحـقـیـقـات ودست آوردهای جدید علمی نیز صد فیصد این امر را به اثبـات رسـانیـده کـه غـذای مذکور برای اطفال بهتر وارزشمندتر نظر به هر نوع اغـــذیه بوده و مـادرانیکه مـیخـواهند صـحت خود وطفلش سالم وقوی باشد باید اطفال شـان را باشیـر خدادادشـان تغـذیه نمـایند . مـزایای شـیـر مـادر برای طفل و مـادر به حدی زیاد است کـه در بسـیاری از کشـور های متمدن مراکز تحـقیـقات علیـحده برای آن ایجاد وسازمان صحی جهان بنا بر اهمیت شیر مادر در تامین صحت سالم طفل ومادر هفته مخصـوصی را بنام هفتـه تغذی باشیـر مـادر سـالانه به سطح بین المللی تجلیل وطی آن ملیـون ها والدین را کـه اطفال خویش را از شیر شان محروم مـیـــسازند رهنمـایی وتشـویق مینماید تا از شیر خود برای تغذی طفل شـان اسـتفـاده نمـایند . برای اینکه مفاد ومزایای شیر مادر را به طفل ومـادر خوبتر واضح سـاختـه باشیم مطلب خویش را به دو بخش تقـسیم نمـوده ویك یك از مـزایای شیر مادر را برمی شماریم .

الف : مزایای شیـر مادر برای مـادران : برعـلاوه پیـوند عـمـیق عاطفی وصـمیمی که از طریق شیر دادن بین طفل ومـادر قـایم گردیده ودرنتیجه آن برای زندگی سعادتمند خـانواده گی وتثـبیـت مـقـام والای والدین در آینده اســاس گــذاری صـورت مـیگیـرد شـیـردادن طفل برای مادر مزایای ذیل را دارد .

۱- مـادر انیکه اطفـال شـانرا باشیر خود تغذی مینمایند از لحاظ روانی آرام وخـوشـحـال بوده واز اضطراب یا تشـویش در امـان می باشند .

۲- به سـرطان های پسـتـان کـمـتـر مـصـاب مـیگردند (ژورنال اپیدیمولوژی ۱۹۸٦)

۳- از سـرطان های تخـمـدان ورحم تقریباً محفوظ می مـانند (مرکز تحقیقات علمی استرالیا)

٤- وقفه ولادت ها نزد مادر زیاد گـــردیده واز ولادت ها ی متواتر جلوگیری مینمایند .

٥- خونریزی بعد از ولادت را تقلیل می بخشد . مادران را از مرض اسـتـوپوروزس که باعث شکستگی وضعیفی استخوانها مـیگردد مـصـئـون مـیگرداند (تحـقـیـقـات اخـیـر در کـشـورهای مصروچیلی)

ب : مـفـادات شیـرمـادر برای اطفال :

۱- شـــیـــر مـــادر رایگان بدسترس طفل قرار میگیرد .

۲- دارای حـرارت مناسب می باشد .

۳- هرزمان آماده است .

٤- معقم وپاك است .

٥- دارای انرژی کـــامـل و ویتـامیـن ها ومنرال های ضروری است .

٦- فله باشیـر غلیظ یك دو روز اول مـملو از مـواد مـعـافـیـت دهنده وضـــد مـــیکروبی بوده در حقیقت نخسـتین واکسین رایگان وبی تکلیف برای طفل است .

۷- شـیـرمـادر سـبب وقـایه امـــراض انتـــانی (مـــیکروبی)میگردد .

۸- اطفـالیکه با شـیـر مـادر تغذیه مـیگردند نظر به اطفالیکه با شیـرهای مـصـــنوعی بزرگ می شوند صحتمند، قوی وذکی بار می آیند .

۹- اندازه مـرگ ومـیـر در اطفالیکه با شیر مصنوعی تغذی مـیگردند چهـار مـرتبـه نظریه اطفالیکه با شیر مادر تغذیه می شوند بلند است .(مـوسـسه ملی صحت محیطی امریکا).

۱۰- اطفالیکه با شیر چوشك تغذی می شوند زیادتر به امراض خطرناك میکروبی مثل بکتریمیا ، مینتجیت والتهاب گوش مصاب میگردند .

۱۱- سازمان صحی جهان و موسسه یونیسف بعد از انجام تحقیقات زیادی درسال ۱۹۸۹م بصورت قطعی اعلام داشتند کـه یکی از عـوامل مـهم اسهالات در زمان طفولیت تغذی اطفال باشیر پودری می باشد و اطفالیکه با شیر مادر تغذیه می گردند کمتر به اسهال مصاب می شوند .

۱۲- چون شـیـر مـادر دارای اکثر انواع مواد غـذایی است بنا ، حسـاسیت در مقابل غذاها بعد از زمان شیر خوارگی نزد اطفالیکه باشیر مادر تغذیه شده اند خیلی ها کم است .

۱۳- الـتـهـابات جلدی ومشکلات هاضمه نزد اطفال تغذیه شده با شیر مادر ناچیز است .

۱٤- امـراض سـرطانی مـثـل لوکیمیا ولمفوما نزد اطفالیکه با شیر مصنوعی تغذیه می شوند زیاد است .

۱٥- شیر مادر وسیله اساسی وقـایه اطفـال در برابر سـوء تغذی بوده همـچنان اطفال را در مـقـابل بروز مرض شکر محافظه مینماید ویا لآخره واقعات مرض سینه بغل (نمونیا) نزد اطفالیکه از شیر مادر تغذی مینمایند به مراتب کمتر است.

تمامی مراکز تحقیقات علمی در تمام جهان همه مادران را توصیه مـیـنمـایند تا هرچه زودتر بعـد از ولادت اطفال شان را شیر بدهند . ندادن شیـر برای اطفـال برای یك یا دو روز بعد از ولادت یك شیوه غیر علمی ومضر بوده که باید کـاملاً ترك گــردد . تـمـامی مــراکــز تحقیقاتی به این امر متفق اند که معطلی در آغاز دادن شیر به طفل نوزاد زمینه را برای استفاده از شیر های مصنوعی آماده ساخته وباعث تشویق مادران به تغذی اطفال شان با شیر مصنوعی میگردد بنا ، این پروسه هیچگاه باید از نیم ساعت بعـــد از ولادت طولانی نگردد . هفته گذشته که مصادف باهفته بین المللی تشویق مادران به شیر دادن اطفـال شـان بود وطی مـحـافل شـانداری در بیش از ۱۲۰ کـشـور جهان تجلیل گردیده با شعار « شیر مـادر حق نوزاد است » . در تمـامی محافل مورد تائید قرار گرفت که خوشبختانه در کشورما نیز از آن تجلیل به عـــمل آمـد .در پایان ناگـفتـه نباید گـذاشت کـه مادران افـغـانی نیز در این زمـینه رسـالت ارزشـمـند شـانرا باید فـرامـوش ننمایند.

تجلي عواطف معالج، سرمنشأ ...

تفـاوتي از مـراقبت یك مـادر از فرزندش ندارد.

خـیلي در باره اش شنیـده، ولي اولیـن بار بود کـــه او را مـــیـدیدم. واز پرسش هاي مطبوعاتي که به جراید جواب تهیه مینمودم هنگام استقبال از من قبل از اینکه در جستجوي سوالي باشم در مورد موهبت بزرگ صحت و اهمیت حیات بشر و بخصـوص رنج و مصیبت و فقر شدید برخي خواهران مریض داخل بستر، نکات رقت انگیز و سودمندي ارائه داشته افکارم را به درجه لطف و مـحبت خواهرانه خویش معطوف داشت .

مـحـتـرمـه دوکـتـورس لاله «سعـادت» موظف سرویس داخله اناث شفاخانه چهارصد بستر خواجـه عـبدالله انصـاري ولایت هرات که با نام و اشتهار خوب در میان خواهران مریض تحت تداوي اش، از محبوبیت خاصي برخوردار شده است، در مورد این سوال که پروپاگند هاي برخي رســانه هاي خارجي را مبني بر محرومیت طبقه اناث افغانستان در عرصه خدمات صحي، چگونه ارزیابي مینمایید، گـفت : به نظر من در مـورد این ادعا قدري مبالغه صورت گرفته است، زیرا خـواهران مـحـجب و مـسـلمـان مـا ، بدون تبـعـیض و ممانعت در بخش هاي معین صحي پذیرایي و بطور جداگانه و رایگان ، مـعـاینه، مـعـالجـه و مـرخص میشوند و صرف نظر از امکانات و وسـایل مـحـدود صـحي کـه در دستـرس داریم، از هیچگونه بذل مـسـاعي در احـیـاي صـحت و تندرستي آنها دریغ نمیشود.

در سرویس داخله زنانه شصت بستر دایمي وجود دارد که توسط تیم موظف خـواهران و نرس هاي بخش اناث پس از تشخیص امراض معینه، معالجه میشوند.

دوکتـورس لاله سعـادت در جواب سوال دیگر خبرنگار ما گفت :

در شـرایط حـاضـر مـشکلي از ناحیـه کمبـود خواهران مـسلکي و مـجـرب در بخش اناث، احـســاس نمـیشـود، ولي این امر با تقـاعـد عـده از دوکتـورس ها ، قـابله ها و نرس ها به مشکل جدي روبرو شده و با فقدان خواهران تحصیل کرده و متخصص، آینده چندان خوبي پیشبیني نمیشود ، امیـدوارم مـســؤولین مـحـتـرم در زمـینه تجویزي اتخاذ نمایند که در آینده این نقیصه، مرفوع گردد.

وي افـزود : در سطح ولایت هرات، کلینیك هاي متعدد حمایه طفل و مادر در فعالیت میباشند و ســرویس دوکـتـوران بخش اناث، بدون وابــستگي و مــشــوره با دوکتوران ذکور، تمام عملیات هاي خواهران داخل بستر را موفقانه اجرا و مراحل سخت و دشوار بهبود مریضان را دنبال و بشکل نورمال و ستندرد سپري مي نمایند.

در اخیر ضمن تعهد بر ارتقاي سطح کمي و کیفي خدمات خویش پیشنهاد مینمایم که جهت حمایت و حـفـاظت از حـیـات خـواهران مریض، شرایط تحصـیلات عـالي در رشته هاي مختلف طبابت در خارج و داخل براي خواهران محیا گردد.

عطا محمد فریادي

دبلغ د جنو پرس تصدي فعالیت :

دملي اقتصاد په پیاوړتیا کي یوبل سترگام !

ناصرشاه سرحدي

دروان ۱٤۲۱ هـ ق کـال لـه ځانگړو خصـوصیاتو څخـه یو هـم یی سـاری وچـکـالـی ده چـی نـه یـوازی دهیـــــواد ، دکـرنیزو ، تولیـداتو او غلـو دانو دپیـــداوار ، سطحـه یی راټیـټه کـړی ده بـلـکـی دهیـــــواد کروندگر او دهقانان یی له پوره تنگ دستی او غریبی سره مخامخ کړل ، دا کرنیز، پیـــداوار، دپنبی او قندی لبلبو دوه صنعتی نباتات ؤ چی زمـونږ دگـــران هیـــواد افغانستان په شمالی سیمو کی کـرل کـیـږی چی یی له شکه یی دسپږنی گراف اندازه په نزولی حالت کی وه .

د افـغـانسـتـان داسلامی امارت داقـتـصـادی ارگـانونو چاروا کی هڅه کـــوی چی دخپلو امکـانـاتو په چوکـاټ کی دخپلو فـعـالو فـابریکو داړتیا وړ خام مواد له داخلی منابعـو نه پوره کـړی ، ترڅو وکولای شی دخپل هیـواد له کروندگرو او دهقـانانو سـره دمستقیمی مرستی په منظور یو لړ جـدی اقـدامـــات او تجویزونه په نظر کی ونیسی چی ددی دوو صـنعـــتـی نباتاتو دکـرکـیلی سـاحـه پراخه شی .

دافـغـانسـتـان داسلامی امارت له دی سترو اقتصادی اقـدامـاتو څخـه هدف دادی چی له یوی خـوا ، بهـر ته داسـعـارو دوتلو مـخنیـوی وشی او له بلی خوا د خارجی اسعارو دتورید لپاره زمینه برابره شی چی څرگند مثال یی دبلغ د جنوپرس اونباتی غوړیو تصدی ده چی دروان کـال پـه وروستـی ربعـه کی یی په خپل تولیدی کمپاین ده ٥٠» تنو فنی او « ۱۰» تنو اداری پرســونل په درلودلو سره پیل وکـړ او اوس په یوه شپه او ورځ کی د ۷۰ ټنو پنبی د پروسس کولو ظرفیت لری چی دا بی له شکـه دهیــواد دملی اقـتصـاد په پیـاوړتیـا کی یوبل سـتـرگـام دی چی اسـلامی امارت یی پورته کوی .

ددی تصدی دتولیداتو په ترکـیب کی مـالـوچ ، لینتـر، سـیکلون او چگت شـامل دی چی دتصدی دخامو ، موادو د پوره کولو تضمین کوی .

مـونږ بشـــپـړ ، باور لـرو چی دپـنبـی او قـنـدی لبلـــبـو دا دوه نبـاتات به دنور کرنیـز ، پیداوار لکه : غنمـو، شـولو اوداسی نورو حبوباتو سره په سیالی کی راشی . په دی توگـه به دبلغ دجنـو پرس او نبـــاتـی غــوړیو تصـــدی دملی اقـتـصـــاد په پیاوړتیاکی خـپل تاریـــخـی رسـالت لکـه څـــرنگه چی ښـایی ولوبوی .

پوهیالي لیلما «یما»

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام ۲٦

دعوت مسلمین به حقیقت اسلام

مسلمانان کور کورانه حرکت نکنید !

بند ۹۲:

اي که فهمیدي سراسر علت نفع و ضرر — درك کردي باعث پیش آمد هر خیرو شر
کورکورانه نباید پا نهادن اي پسر — گوش کن قول خلیل اي دوست چون پند پدر
بعد از این منشین براه تنبلي چون نقش پا — بگذر از این ره چو گرد کارواني و صبا

شرح : اي خواهر و برادر مسلمان وقتي دانستي که نفع تو در چیست و ضرر تو در کدام؛ وقتي دریافتي که خیر تو در چیست و شر تو در چه ؟ وقتي درك کردي که چه چیز باعث ذلت تو و چه چیز باعث عزت تو میگردد، پس کوشش کن که کورکورانه و عجولانه به هر طرف قدم نگذاري و حرف و سخن مرا که بخاطر عزت توست اي دوست، مانند پند پدر گوش کن دیگر ساکن و تنبل مانند نقش مباش ، بلکه چون گرد ره و باد صبا حرکت کن.

انسـان با کوشش و تلاشش است که مفهوم انسـانیّ اش آشکار میگردد ورنه کساني که به اصطلاح شاعر چون نقش و یا چون خط گلیم ساکن اند و تحرك ندارند با آرمانهاي اسلامي جور در نمي آیند و این موضوع آن شعر اقبال لاهوري را در خاطر مي آورد که میگوید :

موج ز خود رفته بي تیز خرامید و گفت — هستم اگر میروم گر نروم نیستم

در اینجا شاعر از زبان موج آب سخن میگوید که گفته است موجودیت من با حرکتم است و اگر حرکت نکنم دیگر من هستي ندارم. زیرا آب اگر حرکت نکند و جابجا بماند موجي تشکیل نمیشود و انسان هم اگر تنبل و بیهوده به سر برد عقلش مي پوسد و با پوسیدن عقل جسمش دیگر به پشزي نمي ارزد. و هویت انساني خود را ازدست میدهد و به قول امام غزالي به مرتبه پایینتر از حیوان سقوط میکند.

اي ستاره اقبال باز بر سر ما بتاب!

بند ۹۳:

کامیابي را براي ما کن اي همت دوچار — جانب ما دوستکامي را تو اي غیرت بیار
تا که طبع ماشود هم شادمان در روزگار — چون گل از باد صبا و همچو گلشن از بهار
بودي اي اقبال با ما هم زماني آشنا — هان مکن از آشنایان اینقدر ترك وفا

شرح: اي طالع و بخت، اي ستاره، اقبال، تو زماني با ما مسلمانها آشنا بودي و پرو بال تو بالاي ما سایه افگنده بود، پس از آشنایان دیرین خود دوري مکن و ترك دوستي و وفا منما اي نیروي همت کامیابي را نصیب ما گردان و اي نیروي غیرت دوستکامي را به طرف ما بفرست تا اینکه طبع و دل ما هم در جهان شادکام شود مانند دمیدن باد صبا که دل گل را شادمان میسازد و چون بهار زیبا و قشنگ که گلشن و باغ با آمدن خویش شاد و سرمست میگرداند.

شاعر باز هم درمان درد مسلمین را در بیدار شدن نیروي همت و غیرت در وجود آنها میداند وقتي نیروي همت و غیرت در وجود انسان بیدار گشت، حرکت پدید مي آید و با پدید آمدن حرکت ستاره طالع و اقبال در آسمان زندگي طلوع میکند. البته باید تذکر داد که حرکت دو گونه است یکي عروجي و دیگر حرکت سقوطي، حرکت عروجي یا تکاملي حرکتي است که انسان نه تنها از براي سعادت خودش بلکه بخاطر سعادت و کامگاري نوع بشر تلاش و کوشش مینماید و اما حرکت سقوطي و یا حرکت قهقرایي حرکتي است که انسان دون همت به راه مي اندازد. او پیوسته در تلاش آن میباشد که چگونه خوشي و سعادت سایر انسانها را برباید، لقمه نان شان را از دهنشان بیرون کند و آواره و بي سر پناه سازد شان، از راه حق منصرف شان سازد تا رونده بیراهه(راه ابلیس) گردند که واي بر چنین انسان نما ها و لعنت بر فکر و راه شان.

اي طالع و بخت به سرزمین مسلمین بیا!

بند ۹٤ :

آخر اي اقبال اي باغ و بهار آرزو — اي فروغ دیده و دل اي بهشت جستجو
اي یگانه گوهر بحر صفاي آبرو — اي به سویت دیده، امید ما از چارسو
مرحبا تشریف فرما شو ز لطف اي خوش سیر — یکقدم در خانه، چشم ز مژگان پیشتر

شرح: آخر اي اقبال، اي ستاره، طالع و بخت، اي باغ و بهار آرزو و اي روشني چشم و دل ما ، اي بهشتي که ما پیوسته ترا آرزو مینمایم، اي یگانه گوهر (دانه، قیمتي) بحر صفا و صمیمیت و آبروي ما ، اي پدیده یي که چشم امید و آرزوي ما از چهار طرف به سوي تو است، مرحبا تشریف بیاور و با لطف و صمیمیت و خلق خوش و با صفا در خانه، چشم ما پیشتر از مژگان چشم جاي بگیر.

با خواندن این بند بار دگر صداي تپیدن دل شاعر به خاطر سعادت و خوشبختي مسلمانها به سمع میرسد و صفاي قلبش احساس میگردد که با چه کلمات زیبا و دل انگیز ستاره، طالع و بخت را به سرزمین وجود مسلمین دعوت مینماید و جایگاه پیشتر از مژگان چشم به وي اعطا میکند.

ادامه دارد

در ایام عید قربان...

گردید.

خبرنگار ما که در ایام عید قربانْ از جریان ذبح و توزیع گوشت قرباني از نقاط مختلف شهر کـــابل دیدن نمـــوده است به تـــقل از اظهارات نمایندگان موسسات سهیم درین قرباني گزارش میدهد که در جریان سه روز عـیـد در سطح شـهـر کـابل بیـشـتـــر از ۷۰۰۰ رأس مواشي اعم از گوسفند، گاو بز و اشتر به مقصد قرباني ذبح گردید.

شـایان ذکـر است کـه موسسه کمك هاي انسان وفا (۲۷۰۰) رأس گـوسـفند، لجنة الدعـوة الاسـلامـیـه (٤٦۰) رأس گـوسـفند، هیئت الاغـاثة الاسـلامـیـه (۲۰۰) رأس گـوسـفند، سنابل الاغاثة (۷۵۰) رأس گوسفند و از جانب هموطنان متدین ما در مرکز شهر و اطراف ولایت کـابل تقریباً ۲۵۰۰ رأس گاو و گوسفند طي سه روز عید قرباني و گوشت آن براي مستحقین توزیع گردید که در مجموع ۳۰ فـیـصـد از طبـقـه بي بضاعت و حاجتمند در کابل از این نعمت ارزان مستفید گردیدند.

طبق یك خـبـر دیگر جمعیت عالي افغاني سره میـاشت نیـز به سلسله مـساعدت هاي همیشگي خویش اینبار در ایام عید سـعید اضـحي (٥٦) رأس گاو و (٤۰) رأس گوسفند را در سطح شهر کابل قرباني و گوشت آنرا از طریق ریاست امداد خویش براي (۲٤۰۰) خـانواده مـسـتـحق توزیع نمود؛ نا گفته نباید گذاشت که ریاست امداد آن جمعیت براي هر خانواده مستحق ۳ تا ٤ کـیلو گوشت قرباني در نظـــر گرفته بود کـه مـسـاویانه به همگان توزیع گردید.

مهربان

شوراي قانون ...

فلسطیني ها بیانیه مفصل ارائه داشته که ضمن آن از رژیم صهیونست خواست تا هرچه زودتر به محـاصـره قسمت هاي از نوار غزه و ساحل غربي رود اردن پایان دهند. این اولین جلسه شوراي قانونگذاري فلسطین از شروع دور جدید قیام فلسطیني ها علیـه اشغالگران صهیونست و به قدرت رسیدن اریل شارون در اسرائیل میباشد این در حالي است که برخورد هاي شدید میـان مجاهدین فلسطین و اشـغـالگران صـهیـونست در فلسطین اشغالي ادامه دارد در جریان این برخورد ها یك تن از مجاهدین شهید و چندین تن دیگر جراحت برداشته اند که وضع صحي تعدادي از آنهـا وخـیم خوانده شده است.

بیت المقدس ته ...

سخت انتقـاد ور ګرځیدلی دی.

دقطر هیـــواد چی د اسلامی هیوادونو د کنفرانس د سازمان مشرتوب په غاړه لری د امریکا په دغه تصمیم باندی په سختی نیوکی سره هغه د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د څلور سوه اته اویا ګنې پریکړه لیک په خلاف بللی دی.

د فلسطین خـپلواکی اداری هم ټینګار کړیدی چی بیت المقدس د فلسطین د نیـول شویو ځمکو بیره نه بیلیدونکی برخه ده چی له ۱۹٦۷ میلادی کال راپدیخوا د صهیونیستی رژیم لخوا نیـول شـویده او هیڅ یو هیـواد د دی حق نلری چی د ملګرو ملتـو د سـازمـان د پریکړه لیکونو له چوکـاټ څخه بهر په دی اړوند تصمیم ونیسی.

د خلیج د سـیـمـی د هیوادونو مطبوعاتو هم پرون د امریکا ددغه تصمیم د غندلو په ترڅ کی له عربی هیوادونو څخه وغوښتل چی په دی باب غوڅ چلند وکړی.

در ولایت هرات ...

توزیع گردید.

این مساعدت ها شامل بیـست و چهـار هزار و دو صـدو شصت جوره کفش ، یکهزار و دو صـدو بیست تخته فرش ، چهار هزار تخته پتو ، چهارو نیم تن روغن و مبلغ ده ملیارد و دوصـدو هفت ملیـون و هفتصد و نودو پنج هزار افغاني پول نقد میباشد که توسط محترمه ثریا سدید رئیـسـه کـمك به اطفـال افغانستان اخیراً براي بیجا شده گان کمپ هاي مهاجرین ولایت هرات توزیع گردیده است .

این مـساعدت از سوي افغانهاي مهاجر مقیم کشور هاي کانادا امریکا ، سویس و جرمني صورت گرفته که پروسه توزیع آن ادامــــه دارد.

قوماندان پولیس ...

احتکار مواد مخدره غیر قانوني متهم کرده است .

وزیر داخله یوگوسلاویا دیروز به خبرنگاران گفت که از سیفـــهاي پولیس مخفي در یکي از تاسیسات مقدار مـــواد مخدره به قیمت سي ملیون دالر کشف شده است . او گـــفت در این صندوقهـا بیش از ششصـد کیلو گرام هیروئین تریاك ، کوکائین و چرس پیدا شده است . نیرو هاي اصلاح طلب که میلوسـوویچ را برکنار کردند مدتها قبل پولیس مخفي یوگوسلاویا را به دست داشتن با جـــنایتکاران متهم میکردند .

ؤي گـــفت چهـــار مامور ارشد پولیس در این رابطـه محاکمه خواهند گردید.

در ولایت کندز ...

قوماندان قول اردوي هرات دیدن نمـوده و در خـتم مسابقات تحایف مقام ولایت براي چاپ اندازان پهلوانان ممتاز و برنده توزیع گردید.

این مـسابقات براي سه روز مـتـواتر در سـتـدیوم ورزشي کـنـدز راه انـدازي گردیده بود.

د جاپان لومړي ...

اپریل په میـاشت کی به د موری پر ځای بل کس وټاکل شی موری د یو لړ ستـونزو له امله چی دده تایـید یی له لسو څخه لږو ته راټیټ کـړ د څه وخت را په دیخوا تر فـشــار لاندی و چی اسـتعفی وکړی.

عواید امارتي شامل مالیات ...

تـمویل مصـارف عـادي وانکشـافی امارت اسلامی افغانـسـتـان در ظرف یك سال مالی عواید امارتی میباشد.

عـواید امـارتی شـامل مـالیـات مستقیم ومالیات غیر مستقیم است. مقصد از مالیات مستقیم عبارت از مالیات تاجران انفرادی ، مالیـات برعایدات شرکتها ، تصدیهای امارتی ، مالیات قرار دادی وغیره میباشد . مالیات غیـر مـسـتـقـیم عـمـدتاً محصولات گمرکی صادرات و واردات را احتوا می نماید برعلاوه مالیات فـوق الذکـر امارت اسـلامی ازبابت فروش جایداد منقول وغیرمنقول ، سرمایه گذاری ها ، فروش لایسنس وفیس ها ومدارك ملکیت وباقیـات کمك های بلاعوض نقدی وجنسی نیز عواید دارد کـه در آغاز هرسـال مالی پیشبینی عواید ازمدارك فوق الذکر بروَیت تحـصـیلات واقـعی توسط اینوزارت صـورت می پذیرد وبعـد ازطی مراتب اصولی درمعرض تطبیق قـرار داده مـیـشـود . وزارت مـالیـه مـــــوظف است درهر ربع را پور تحصیلات عواید مذکور را از مرکز و ولایات کـــشـــور جـــمع آوری و تحصیلات واقعي را تثبیت نماید .

وی مـیـآفـزاید : قـبـلاً گـفـتـیم مطابق به پروگـرامهـا وپالیـسـی های امـارت اسلامی افغـانسـتـان وزارت مـالیـه مکلف است کـه عـواید سـال آینده را پیشبینی ودر معرض تطبیق قرار دهد البته بعضاً درجریان سال بنا بر تجویز جدید مقامات عالیه - مدارك عـواید کم ویابیش گـردیده واین تغـیـیرات نیز مد نظر گرفته میشود .

بخش دوم پالیسی مالی کشور رامصارف کل یعنی مصارف عادی وانکشافی تشکیل میدهد تطبیق پالیسی مصارف عادی از وظیفه وزارت مـالیـه بوده امـا مــسـایل انکشافی که رشد اقتصادی کشور در سالهای آینده منوط به آن است مربوط وزارت پلان میباشد .

در اخـیـر مـحـتـرم مـولوی عـبدالهادی آخندزاده کـفیل وزارت مالیه چنین گفتند : درسالهای اخیر بودجه امارت کـسر داشته واین کسر ناشي از شـرایط غـیــر عــادی درکـشـورمـیـبـاشـد وزارت مـالیـه پروگــرام دارد تادر آینده عــواید خویشرا تزئید بخشیده ودر قسمت جلوگـیـری مـصـارف غـیـر ضروری کنترول جدی راعملی سازد البته با از بین رفـتن شرایط غـیـر عـادی وکـنتـرول مـصـارف این کـسـر به تدریج از بین رفـتـه زمینه سرمایه گذاری از عواید ومنابع داخلی مهیا خواهد شد .

مصاحبه کننده : حمیدالله شبنم «عالمی»

سیاف در آخرین ...

روز صلاحیت قوماندانان قبلي مسعود کاملاً سلب میگردد؛ آنان مجبور به تراشیـدن جبـري ریش، پوشیـدن یونیفـورم خاص نظامي و اطاعت بدون قید و شرط از قوماندە جنرالان کمونیست گردیده اند ؛ از اینرو نفـــوذ این وضع موجـویت سیـاف و سایر قـومانـدانان قـبلي را در آنطرف جبهه وسیعاً تهدید نموده و این امر قویاً باعث گـردیده کـه هر چه زود تر آقـاي سـیـاف و سـایر قوماندانان تن به تصمیم گـیـري آخـرین سـرنوشت خویش بدهند.

خـبـر مي افـزاید : اخیراً یکجا شدن قوماندان محـمـد کریم عابد با صد نفر از افراد مسلح اش به نیـرو هاي اردوي ا.ا.ا.ا دال بر آنچـه صحت مي گذارد که تا اینجا گفته آمدیم و دیري نخـواهد بود کـه در کنار مـسـعـود بجز بابه جــان، عظیـمي و دلاور کسي دیگري باقي نماند.

یاسر عرفات ...

امله دری زره ملیـــونـه ډالره زیان رسیدلی دی.

د صهیونستانو پر ضد پاڅون راهیسی چی پنځه میاشتی وراندی پیل شـوی و د فلسطین د پارلمـان غـړو ته په خـپله لومـړی ویـنا کی ښاغلی عـرفـات ویلی دی چی اوس په سلګونو زره تنه فلسطینیان کـار نلری. نوموړی د میز په وهلو او خپل غږ پورته کولو غوښتنه کړی چی په دی باید وپوهیــږی چی ولی د نړی مـــشـــران د فلسطین د خلکو د بدبختـی په اړه پټـه خـوله پاتی دی هغـه ویلی له صهیـونسـتانو سره د سـلامـی خبرو اترو د بیا پیل لپاره چمتو دی خو له هماغه ټکی څخه چی د بهــود بارک د کـــبینې اړخی حکومت سره یی پریښی دی . دا نظر د صهیـونســتانو د نوی لومړی وزیر اریل شـارون له خـوا لا د مخـه رد شویدی . یاسر عرفات همدارنګه په ملګرو ملتو غږ کړی چی رامیدان ته شی او د فلسطینیانو د ساتلو لپاره د ملګرو ملتـو ځواک سـیـمـی ته ولیږی.

مواشي ذبح شده به مقصد قرباني از جانب جمعیت عالي افغاني سره میاشت در ساحه انشار شهر کابل عکاسی :یوسف

د بتانو ماتولو پریکړه د الهي ارشاداتو ...

سره سم شویده او دا کار د کوم سیاسی هدف په مقصد ندی شـــوی بلکی د دینی عالمانو د فتوا له مخی دغه عمل تر سره کیږی. بله دا چی دا زمـــوږ یوه کـــورنی موضوع ده .

د عـالیـقـدر امـیــر الــــمومنین څرګندونی د پاکــــــتان د اســـلامی جمهوریت د کورنیو چارو د وزیـر د قنـــــاعـت وړ وګرځیدی .

د یوه بل خبر له مخی د پاکســـــتان د اســـلامی جمهوریت د کورنیو چارو وزیر محـترم معـین الدین حیدر پرون له غرمی مخکی د کندهار ولایت د بهرنیو چارو په ریـاست کـی د افغانستان د اسلامی امارت د بهـــرنیـــو چارو له وزیر محـترم مولوی وکـیل احمد متوکل سره وکتل.

ددغی کتنی په بهیر کی دواړو خواوو د علاقی وړ یو لړ موضوعګانو په باب خبری وکړی.

محترم معین الدین حیدر پرون مازدیګر د څلورو بجو په شاوخوا کی له افغانستان څخه د خپل هیواد په لور روان شو .

د کندهار په ترېوال هوایی ډګر کی د افغانستان د اسلامی امارت لوړ رتبه چارواکو له ده سره مخه ښه وکړه .

چمن حضوري

از دست خواهد داد .

این مطلب را محترم حیات الله لوگروال حکم ملي فتبال کمیته ملي المپیك به خبرنگار ما اظهار داشته افـزود : امـروز درین چمن به جـاي ورزش، همـه روزه مواشي در چریدن است ، رنگمـالي مـوتر شـویي و دریوري صـورت مـیگیـرد کـه زمینه ورزش را براي ورزشکاران کاملاً سلب نموده است . وي اضافه داشت : این چمن با وصـف اینکه در یك وقت گنجایش ۲۵ تیم ورزشي فتبـال را دارا میباشد مگر سرسبزي و کناره هاي فلزي چهـار اطراف چمن امـروز تقریباً ۷۰٪ ازبین رفته است که باید در زمینه احیـاي مجدد آن از جانب شاروالي کابل و سایر موسسـات غیر حکومتي هرچه زودتر توجه جدي مبذول گردد .

مهربان

د ملګرو ملتو عمومي...

افغانستان کی د وچکالی د اغیزو، په افغانستان باندی د ملګرو ملتو له خوا د بندیزونو په لګولو او همدارنګه د ملګرو ملتو له خوا د افغانـسـتان د اسلامی امارت په رسمیت پیژندلو او یو لړ نورو اړوندو موضوعاتو په هکله له ښاغلی کوفی عنان سره خبری وکړی .

دغـه راز کوفی عنان به د دوشنبی په ورځ له پېښور سره نږدی د افغـان مهاجرو کمپونو ته ورشی او له نږدی څخه به د هغو په حال باندی ځان خبر کړی له هغـه وروسته به ښاغلی کوفی عنان چی جنوبی آسـیـا ته یی خـپل اووه ورځنی سـفـر پیل کـړیدی په پاکـســتـان کی د موکراسی ته د ودی او د هند او پاکستان ترمنځ د اتمی سیالی د کـمـولو په اړه هم هلی ځلی وکـړی . ښـاغلی عنان به د پاکـسـتان له پوځی مشـر جنرال پرویز مشرف سره په اسلام آباد کی ووینی

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

خبرتیا

د افغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان «شریعت اوونیزه» د ۱٤۲۲ هـ ق کال لپاره ګډون کوونکی منی .

د ګـډون کلنی ونډه په مـرکـز کی (٤۰۰۰۰) افـغـانی او شپږ میـاشتنی (۲۰۰۰۰) افـغـانی په ولایتونو کی د ګـډون کلنی ونډه (٥۰۰۰۰) افغانی او شپږ میاشتنی (۲٥۰۰۰) افغانی .

دغـه راز له هیواد نه بهر د ګـډون کلنی ونده (۱٥۰) امریکایی ډالره او شپږ میاشتنی (۷٥) ډالره او د مدرسو د زده کوونکو لپاره نیمه بیه په پام کی نیول شوی ده .

که چیری د هیواد له سیاسی ، نظامی ، اقتصادی ، فرهنګی او... جریاناتو سره مینه لـــری او غواړی پری خبـــر شی نو په «شریعت اوونیزه » کی ګډون وکړی.

اداره

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press